# د پښتو په جدید نظم د ترقي پسند تحریک اثرات

## Impact of Progressive Literary Movement on Pashto Modern Poem

فاروق انجم*

## Abstract:

The progressive movement which was started in Europe in the 20th Century has impacted the literature of all oriental languages to a great extant. This movement has also influenced Pakistani literature in general and Pashto literature in particular. This literary movement appeared against the romantic and ideological thoughts and gave emphasis on social elements and brought resistance in feelings and thoughts. Thus political, social problems, patriotisms, love with freedom, class struggle and humanism became main subjects of the progressivism. Pashto literature especially Pashto poetry welcomed this movement. Most of writers and poets took part in progressive activities and thus most of Pashto Poetry became very rich and progressive in its nature. In this article the subject, trends, thoughts, changing and direction of modern poem have been explained after the impact of progressive movement.

شاعري یو لطیف او رنګین فن دی- او دا په هغه لطیفو فنونو کښې دی کوموته چې عرب د "ادب عالیه" نوم ورکوي په دغه فنونو کښې دشعر نه علاوه نقاشي، خطاطي او موسیقي هم شامله ده- د شعر د جامع تعریف په بابله ډېرو نقادانو، پوهانو خپلې خپلې رائې څرګندې کړې دي خو ددې هر څۀ باوجود هم خبره په یوځای کښې ودرېدلې نۀ ده.

خو د شعر په حقله دومره قدرې وئیلی شو چې شعر هغه فصیح او بلیغ کلام دی په کوم کښې چې د وزن نه علاوه د ناویاته او ناآشنا خیالاتو، د لطیفو جذباتو او احساساتو عکاسي په داسې ډول شوې وي چې د هغې اثر نېغ په نېغه د انسان په زړۀ او دماغو وۀ شي- لوی لوی پوهان او نقادان په دې خبره یوه خولۀ دي چې د هرې ژبې د ادب شروع د نظم (موزون کلام) نه شوې ده- په ابتداء کښې شعر د مقفی او مسجع الفاظو هغه ټکرې وې چې دیني پېشواګانو یا پوهانو به جوړولې یا وئیلې- د وخت تېرېدو سره سره په دې وړو وړو جملو او فقرو کښې د وزنونو او قافیو اضافې هم وشوې- خو چې کله د شعر تکمیل خپل انجام ته ورسېدو او د ادب په مېدان

---

* Assistant Professor (Pashto), Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad

کښې داسې استاذان او شاعران مخې ته راغلل چې هغوی د خپل قوت متخیله او د طبیعت د روانۍ په زور داسې زړۀ راښکونکو نمونو ته د تخلیق جامې واغستولې چې هغه د راتلونکو او وروستو هنرمندانو دپاره د مثال سبب جوړې شوې- په ادبي دنیا کښې د متقدمینو دغه دور ته "کلاسېك دور" وئېلی شي او هم په دې دور کښې تخلیق شوي نظم ته د کلاسېکي نظم نوم ورکولی شي-

د دنیا ټولې ژبې د شعر د زېږون د دې کېفیت او حالت نه په یو انداز تېرې شوې دي- دغه شان متاخرینو د لیك په وخت د متقدمینو نمونې او مثالونه ځان ته وړاندې اېښې دي- او په څۀ نه څۀ توګه د هغې د اثر لاندې راغلي دي- په یورپ کښې د کلاسېك شاعرۍ اعلی مثالونه د یونان او لاطیني ژبو تخلیق کار ۀ په کومو کښې چې د هومر، سوفوکلینر، ورجل او داسې د نورو ډېر تخلیقات شامل وو- په انګریزۍ، فرانسیسۍ، المانۍ او د یورپ په نورو ژبو کښې چې څومره د اوچتې پائې کلاسېکي ادب تخلیق شوی دی د هغې ټولو په وړاندې دغه یوناني او رومن ادبي نمونې پرتې وې- دغه شان په پښتو ادب کښې ارزاني خوېشکي، مرزاخان انصاري، دولت خان لوانړی، خوشحال خان، رحمان بابا، حافظ الپوری، کاظم خان شېدا، حمید بابا، علي خان او داسې نور ډېر کسان هغه شاعران تېر شوي دي کوم چې د کلاسېك دور استاذان بللی شي- او کلامونه ئې وروستنو دپاره د تقلید او مثال یوه نمونه ګرځېدلې ده- د پښتو د کلاسېکي نظم پنګه ډېره درنه ده- او د یوې ژبې کلاسېکي سرمایه چې څومره زیاته وي هم هغه هومره ئې جدید ادب روښانه وي- کلاسېکي نظم ډېر د اهمیت وړ دی ولې چې هم دا د جدید نظم دپاره یو بنیاد ګرځېدی شي-په جدید نظم باندې د بحث نه وړاندې لږ غوندې د نظم په کړو وړو باندې رڼا اچوو-

نظم دپښتو په لغت کښې واحد او مذکر دی- معنٰی ئې بندوبست،انتظام او نظام دی- محمود ایاز د نظم تعریف په دې ټکو کوي:

" د شعر په حواله "نظم" هغه منظوم کلام ته وائي چې په کښې فکري تسلسل او معنوي ربط موجود وي او د قېصې په تار د یو خیال یا موضوع، لفظونو په شاعرانه فن سره داسې پیودل شوې وي چې لی ردم او بحرته زیان نۀ رسوي او په مجموعي لحاظ موزونیت ولري"(1)-

نظم د شاعرۍ یو ډېر زوړ صنف دی چې د هرې ژبې په ادبي اثارو کښې ئې نخښې نخښانې په لاس راځي- د نظم نه که مونږ یو خوا ټوله شاعري مراد اخلو نو بل اړخ ته نظم په خپله یو شعري صنف هم دی- مشتاق مجروح یوسفزی د نظم په حقله وائي-

"هغه شعري تخلیق چې ټول شعرونه ئې مسلسل او مربوط وي او یو خیال په کښې بیان شوې وي هغه نظم دی"(2).

ابو الاعجاز حفیظ صدیقي د نظم په بابله لیکي-

"نظم کے عام مفہوم کے مطابق ہر کلام منظوم نظم ہے۔ لیکن نظم کے ایک محدود معنی بھی ہیں۔ جن کے مطابق نظم ایک صنف سخن ہے۔ نظم کا لفظ مختلف سلسلوں میں مختلف معانی میں استعمال ہوتا رہا ہے۔ کبھی غزل گو کو الگ کرکے باقی تمام اصناف کو نظم کہہ دیتے ہیں۔ لیکن جب نظم کا لفظ شاعری کی ایک خاص صنف کے لئے استعمال ہوتا ہے تو اس کا مطلب ہوتا ہے اشعار کا ایک ایسا مجموعہ جس میں ایک مرکزی خیال ہو۔ اس کے لئے کسی موضوع کی قید نہیں۔ اور نہ ہی اس کی ہیئت متعین ہے... نظم کا لفظ جب شاعری کی ایک مخصوص صنف کے لئے استعمال کیا جاتا ہے تو اس سے وہ نظمیں مقصود ہوتی ہیں جن کا کوئی حسین موضوع ہو اور جن میں فلسفیانہ، بیانیہ یا مفکرانہ انداز میں شاعری کے کچھ خارجی اور کچھ داخلی دونوں قسم کے تاثرات پیش کئے ہوں"(3).

داور خان داؤد د نظم په حقله خپل خیال داسې څرګندوي-

"د نظم لفظ په مختلفو موقعو بیلې بیلې معنې لري کله چې دا د نثر دمقابلې په لړ کښې دټولې شاعرۍ دپاره استعمال شي نو دې کښې د شاعرۍ ټول اصناف شامل وي او که غزل ترې بیل کړې شي نو باقي ټولو اصنافو ته نظم وئیلی شي خو چې کله د نظم لفظ د شاعرۍ د یو خاص صنف دپاره استعمال شي- نو د دې نه مطلب د اشعارو یوه داسې مجموعه وي چې یو مرکزي خیال لري او د ارتقاء په وجه د تسلسل احساس په کښې هم موجود وي"(4).

په اردو انسائیکلو پیډیا کښې د نظم په دې توګه تعریف لیکلی شوی دی-

"نظم اظہار کی ایک شکل، جس کے حدود قطعی طور پر مخصوص نہیں ہوسکتیں۔ مگر شعر سے قافیہ ردیف وغیرہ کی بدولت مختلف اور نمایاں ہوتی ہے۔ اور شعر بحور اور اوزان کے ماتحت ہوتے ہیں"(5).

د دې نه دا څرګندېږي چې الله تعالی انسان له د وینا کوم قوت ورکړی دی هغه په دوه ډوله دی یو ډول هغه خبرې وي چې ساده وي او دغه شان مطلب او په معنی ئې مونږ په آسانه رسو- دویم ډول هغه وینا وي کوم چې په یو خاص وزن، آهنګ او باقاعده د یو نظم وضبط د اثر لاندې او په یو ښکلي ترتیب کښې وي څنګه چې په یو هار کښې ملغلرې یا ګلونه یو بل سره پېرلي شوي وي- دغه ړومبۍ قسمه وینا ته مونږ د نثر او دویمې ته د نظم نوم ورکولی شو- خو ښۀ نظم مونږ هغه ته وئیلی شو چې هغه د نظم د معیار په ټولو خوبو برابر خېژي- کوم نظم چې شاعر خپله هم د اثر لاندې راولي او لوستونکې هم، نو هغه ښۀ ګڼلی شي- که په نظم کښې خیال ډېر اوچت او ژور وي نو څرګنده خبره ده چې د دې اثر به هم ډېر طاقتور وي او که چرې فکر په کښې عامیانه او سطحي رانغښتی شوې وي نو بیا تاثیر هم زورداره ممکن نۀ شي کېدی-

اختصار هم د نظم يو لوی صفت دی بې ځايه طوالت هم د نظم تاثير ته زيان رسوي که چرې په مختصر او لنډ شان نظم کښې هم زور وي او شاعر په خپل فن او خيال پوره عبور او ګرفت لري نو هغه هم د قاري په ذهن تل عمري نقش کولی شي- د لفظونو صحيح ترتيب او ترون هم د نظم د پاره د قدر وړ ګڼلی شي دې سره په نظم کښې حسن او ژوند پيدا کيږي او يوه شيرينه، پرتاثيره نغمه ترې سازيږي-

د جديد يا جديديت اصطلاح د کلاسيکيت په ضد کښې راځي په اصل کښې کلاسيکيت يو يورپي اصطلاح ده- ابو الاعجاز صديقي د کلاسيکيت په حقله وائي-

"*يورپي ادبيات ميں کلاسيکيت کے اصطلاحی معنی تھے ادبی رہنماؤں کے لئے يونانی يا رومن مصنفين کی نگارشات سے رجوع کرنا... ہيئت پرستی، قدامت پسندی، عقليت، تنظيم، اصول پسندی اور اعتدال کلاسيکيت کے نماياں خدوخال ہيں*"(6).

جديد د عربي ټکی دی او معنی ئې ده نوی، تازه اوسنی- د جديديت په حقله ښاغلی طارق هاشمي خپل خيال په دې توګه څرګندوي:

"*جديديت کو ايک اصطلاح کے طور پر سب سے پہلے انيسويں صدی کے اواخر ميں کيتھولک عقائد کی قدامت پرستی کے خلاف روشن خيالی کی تحريک کے پس منظر ميں برتا گيا۔ تجدد پرستی کا تصور اول وآخر اپنے زمانی رشتوں کا پابند ہے اور اس اعتبار سے ہر وہ رويہ جو زندگی کی پرانی قدروں سے گريز اور نئی قدروں کی جستجو کا پتہ ديتا ہے، جديد ہے۔ بالفاظ ديگر جو انداز نظر اپنے زمانے کے ساتھ ہم آہنگ ہو او رماضی سے يگانگت او رربط محسوس نہ کرے وہ گويا جديديت کا حامل ہے*"(7).

مفلس دراني په ادب کښې د جديديت په حقله وائي:

"د نني دور ليکوالو يوه ډله جديد ادب هغې ته وائي چې نۀ يوائې د خپل دور او زمانې عکاس وي بلکې د خپل چاپېرچل او خواوشا نه باخبره وي او معاشره کښې د کېدونکو انقلابي تحريکاتو مرسته او د رجعتي قوتونو مخ نيوی کوي او د معاشرې نه د ښکته پورته، کم او زيات، اعلی او ادنی، خان، غريب، سرمايه دار او مزدور فرق لرې کولو هڅه او کوشش کوي"(8).

پروفېسر اسلم تاثير آفريدي د جديد نظم په بابله څۀ دا رنګه وينا کوي:

"هغه قسم نظمونه جديد نظمونه ګڼلی شي- چې يو خيال يو فکر او يو مضمون په کښې د مصرعو په ترون او بندونو په ترتيب داسې پېرلی شوی وي چې د آغاز، پرمختګ او اختتام پته ئې لګي تاثر ئې قائم وي- کلاسيکي روايات ئې په سينه پورې کلک نيولي وي او د وطن،

اولس، سیاست او معاشرت د معاشي او سماجي ژوند پوره پوره احاطه په آهنګ ښائسته وي او مقصد ئې د اورېدونکي یا لوستونکي زړۀ ته خوشحالي او سکون ورکول وي"(9).

د پورته ذکر شوو اقتباسونه په رڼا کښې مونږ وئیلی شو چې جدید نظم یو موضوع لري، فکري تسلسل لري- د دې په مقابله کښې په پخواني نظم کښې د موضوع او فکري تسلسل فقدان ؤ-

د جدید نظم مختلف هیئتونه پښتو ادب ته د انګریزي شاعرۍ د اثر لاندې راغلې دي او پښتو په خپله جولۍ کښې داسې ځای کړې دي چې پردي نۀ لګي او ښخي خپل ښکاري- او شاعران په کښې تردې دمه لیکل کوي لګیا دي-

دغه شان ګڼو شاعرانو چې په کښې د اجمل خټک، قلندر مومند، عبدالرحیم مجذوب او هاشم بابر وغیره نومونه د قدر وړ دي د جدید نظم په مېدان کښې ډېرې تجربې وکړې او نظم د هیئت د بدلولو او په نوؤ قالبونو کښې د دې د اچولو پوره پوره هلې ځلې اوکړې-او دغه شان جدید نظم ئې د وخت د تقاضو او نورو ژبو د نظمونو سره اوګه په اوګه روان کړو-

د پښتو د جدید نظم ارتقائي سفر د شلمې صدۍ نه شروع شوی ؤ او تر کال ۱۹۵۰ء پورې د ژوند د مختلفو حوادثو سره مخ د موضوعاتو او مضامینو تر څنګه راورسېدو په دغه دور کښې د نظم خالص مقصد د ازادۍ په حقله اولسي شعور پېدا کول، د ظالم انګرېز سامراج د استحصالي نظام په ضد اواز اوچتول، او د غلامۍ زنځیر شلول وو او د خپل وطن او ملت د ازادۍ او خپلواکۍ د پاره ټول قام یو شان هلې ځلې کولې چا د تورې، چا د علم او قلم په ذریعه- دا خبره په خپل ځای ده چې هم د دغه دور په نظم کښې څۀ فني کمزورۍ هم په نظر راځي خو بیا هم دغه د جدید نظم د اغاز یومهم دورګڼلی شي- د پښتو د جدید نظم اکثر شاعران د خدائي خدمتګار تحریك سره تړلي وو- د دوی مقصد یو خاص سیاسي نظریه او فکر خورول ؤ- هم په دې دوران کښې د قام پرسته شاعرانو په شاعرۍ او بیا په تېره تېره په نظم کښې د هیئت څۀ څرګند بدلون نۀ ښکاري - د دغه شاعرانو په مخکښې یو واضح مقصد او نصب العېن پروت ؤ په دې غرض د شعر د پاره د شکل نه زیات مضمون اهم ؤ- ځکه خو به اکثر دغه وخت "ادب د ادب دپاره" برعکس دا نعره "ادب د ژوند دپاره" هم پورته کېده- هم په دې وجه د دغه دور شاعرانو د روایتی، رسمي او تقلیدي موضوع او مضمون تجدید طرف ته توجه وکړه او د ژوند سره تړلي سماجي، معاشي، سیاسي او معاشرتي مسائل ئې د خپل نظم موضوعات وګرځول- ډاکټرراج ولي شاه خټك د جدید نظم د ابتدا د دې موضوعاتو او د جدید نظم په سلسله کښې د خدائي خدمتګار تحریك سره تړلي شاعرانو د خدماتو ذکر په دې توګه کوي:

"بیسویں صدی کے آغاز میں جب لوگ ایک سیاسی پلیٹ فارم پر یکجا ہونے لگے تاکہ تحریک آزادی کے ایک منظم اور معین ہدف کے لئے اجتماعی مزاحمت شروع کی جاسکے تو شعراء اور ادباء بھی ان تحاریک سے وابستہ ہوئے ان میں بہت عالم و فاضل لوگ بھی تھے جنہوں نے عالمی ادب کا گہرا مطالعہ کیا تھا۔ ان لوگوں کی برکت سے پشتو شاعری میں جدیدیت کی ابتدا ہوئی اور ایک زبردست ادبی انقلاب یہیں سے شروع ہوا۔ شاعری کا موضوع اکثر جدید نظم میں آزادی کے جذبات کا فروغ، غلامی سے نجات، پشتونوں کے اتفاق واتحاد کو شعوری طور پر اپنایا گیا ساتھ ساتھ معاشرتی خرابیوں، سماجی اور معاشرتی ناہمواریوں کی نشاندہی بھی شاعری کے ذریعے نہ صرف ہونے لگی، بلکہ عوامی مقبولیت بھی حاصل کرنے لگی۔ جدید پشتو نظم کی ایک خوبی یہ نظر آتی ہے کہ ایک خاص موضوع پر کھل کر جذبات کا اظہار کیا جاسکتا تھا۔ لہٰذا جدید پشتو نظم نے ان حالات میں جنم لیا۔ ظاہر ہے کہ آزادی کی تحریک ابتدا میں محدود تھی۔ پورے برصغیر میں یا دیگر ایشیائی اقوام میں تحریکیں پوری طرح منظم نہ ہونے پائی تھیں اس لئے پشتو میں جدید شاعری صرف اپنے ہی ماحول کی عکاسی کرتی ہے۔ اس ضمن میں ایک منظم سماجی تحریک خدائی خدمتگار نے پشتو شاعری پر بھی گہرے اثرات مرتب کئے۔ جدید نظم کے شاعروں میں اکثریت کا تعلق خدائی خدمتگار تحریک سے تھا"(10).

او هم په دغه زمانه کښې چې انجمن ترقي پسند مصنفين په وجود کښې راغلو نو ډېرو پښتنو شاعرانو او اديبانو دې ته په روڼ تندي هرکلی اووې او په دغه صف کښې شامل شو- ځکه چې ترقي پسند عناصر دلته د مخکښې نه موجود وو- او يوه ډېره ښه فضا جوړه وه- د اسماعيل ګوهر د وېنا مطابق:

"نچلے طبقات میں طبقاتی استحصال کے خلاف یہ بیداری تحریک آزادی کے دوران بھی تھی اور آزادی کے بعد بھی۔ طبقاتی استحصال کے خلاف ایسی ہی بیداری اور جذبات رکھنے والے اہل قلم ترقی پسند تحریک کے منشور کو اپنانے میں پیش پیش تھے۔ کمزور اور پسے ہوئے طبقات کا منشور لیکر جب ترقی پسند مصنفین سرحد میں متحرک ہوئے تو اس فکر کو عصری تقاضا سمجھ کر قبول کیا گیا"(11).

خو کله چې د ترقي پسند تحريك د اثر لاندې د ترقي پسندۍ رجحان د مارکسي نکته نظر د لاندې د پښتو ګلبڼ ته راغی نو دا په ډېر تېزۍ سره خور شو- د دغه رجحان ترمخه ادب ژوند له تخليق کولی شي او د اديب کار دا دی چې د تهذيب په ارتقاء کښې په شعوري توګه خپل رول ولوبوي- انسان دوستي،استحصال، دښمني، معاشي مساوات،جمهوريت پسندي او

د ژوند په جدلياتي اړخ ژور نظر د دې رجحان ترمخه د نظم تنه بوده ده- ډاکټر انور سديد د ترقي پسندې شاعرۍ په حقله خپل خيال داسې څرګندوي-

"ترقی پسند شاعری میں زندگی کے خارج کو موضوع بنانے اور قاری کو براہ راست مخاطب کرنے کا رجحان نمایاں ہے۔ اس تحریک نے زندگی کی جبریت کو طنز کا نشانہ بنایا۔ اور شاعر کو اس کے خلاف اونچی آواز میں احتجاج کرنے کی دعوت دی. نتیجہ یہ ہوا کہ سماجی اقدار کے خلاف رد عمل کا جذبہ پیدا ہوا اور معنوی طور پر اشتراکی حقیقت نگاری کو ادب کی اصلی نہج قرار دے دیا گیا۔ چنانچہ ترقی پسندی شاعری نے جذباتی اظہار کے لئے جو تین ذرائع استعمال کئے ان کي تفصیل حسب ذیل ہے۔

اول: طبقاتی کشمکش کو متحرک کرنے کے لئے مزدور اور محنت کش کو موضوع بنایا گیا۔

دویم: نظام کہنہ کی شکست وریخت کے لئے انقلاب کو وسیلہ اور نئ سحر کو نشان منزل قرار دیا گیا۔

سوم: اولاً شاعر کی توجہ کا مرکز گوشت پوست کی عورت تھی لیکن انقلاب کے دور عروج میں اس عورت کی جگہ عروس وطن نے لے لی"(12).

دغه شان اسماعيل ګوهر د ترقي پسند نظم د موضوعاتو په لړ کښې ليکي:

"ترقی پسند شعراء نے حریت فکر اور جراءت اظہار کا مظاہرہ کرتے ہوئے طبقاتی استحصال، جبر، سماجی ناانصافیوں، معاشی بدحالی، فرسودہ اور منفی روایات اور توہمات کے خلاف لکھا۔ انہوں نے سماج کے مکروہ چہروں سے پردے اٹھائے اور نری رومانیت کے بجائے محکوم ومقہور طبقات کے حقوق، انسان دوستی اور زندگی کے حقیقی مسائل کو موضوع سخن بنایا۔ نظم کے یہ موضوعات اور ایسا بے باکانہ لہجہ پشتونوں کے قومی مزاج کے عین مطابق تھا۔ عوام شاعر کو اپنے قریب اور اپنا حقیقی ترجمان تسلیم کرنے لگے۔ شاعری خلاوں سے اتر کر زمینی حقائق سے آنکھیں چار کرنے لگی مقصدیت نے نظم کو سماجی ومعاشرتی اعتبار ووقار بخشا۔۔۔ موضوعاتی حوالے سے ترقی پسندوں کا کینوس بہت وسیع ہے۔ وہ کسی خاص علاقے یا خطے کی حد بندیوں سے آزاد، انسانیت کے عظمت کے نغمے گانے لگے"(13).

د ترقي پسند نظم موضوع يا مواد صرف تر سياست او طبقاتي لړي برې پورې محدود نۀ دي- بلکې په دې کښې د ژوند هر اړخ او د فطرت د رنګينو ټول موضوګانې شاملې دي- ترقي پسند نظم د موضوع په لحاظ د ټول ژوند نه ګېر چاپېره چورلي د دې دائره محدوده نۀ ده او د ژوند په رنګه لامحدوده ليدی شي-د ترقي پسند تحريك د اثر لاندې ترقي پسندانه افکار په

جدید نظم کښی رانغوتل او په نظم کښی ئې فکري بدلون راوستو- او د اظهار یو نوی انداز ئې مخې ته کېښود- د حنیف کېفي د وېنا مطابق:

"میرا خیال ہے کہ تحریک کی ابتدا سے دس بارہ سال پہلے آزاد نظم وجود میں آچکی تھی اس سے پہلے معری نظمیں لکھی گئ تھیں اس لئے ہیئت کے تجربوں میں ترقی پسند شعراء کا کوئی نمایاں حصہ نہیں لیکن ترقی پسند شاعری کا ایک دین ضرور ہے اور وہ ہے جرات فکر واظہار، انہوں نے ایک نیا لہجہ دیا جو بے باک اور آزادانہ ہے"(14).

که مونږ په موجوده جدید نظم نظر واچوؤ نو په هغې کښی دا نظریه لیدی شي چې د رنګ ونسل د غریب او د خان د فرق نه بغېر هم د انسانیت احترام لازم دی- دغسې د غریب مزدور دهقان په حقله د خواخوږۍ جذبات هم په نظم کښی ځای کړی شوي دي- او د یو داسې نظام غوښتنه په کښې هم کیږي چرته چې ټول اولس یوبرابروي- د مساواتو فضا قائمه وي- امن وي خوشحالي وي- دغه قسم جذبات د کلهم انسانیت د پاره یو دي او په دې کښې د سرحدونو هېڅ قېد نهٔ شته- او په دې نظمونو کښی یو نوی احساس او یو نوی شعور ښکاري- او په جدید نظم کښې د دې رنګه جذباتو موجودګي دترقي پسند تحریك له برکته ده-

د ترقي پسند تحریك سره تړلي هغه نوموړي شاعران چاچې پښتو نظم له یو ځانګړی مقام ورکړو او د ترقۍ په بام ئې ودروو او د خپل ادب خصوصاً د پښتو نظم بنیادونه ئې ښهٔ پاخهٔ کړل په هغوی کښې اجمل ختك، قلندر مومند، همېش خلیل او ایوب صابر داسې نومونه دي چې د اعلی نظم د فن او فکر په لحاظ وړومبي صف کښی ولاړ دي-

ترقي پسند تحریك په پښتو نظم کښی یو غټ انقلاب راوستو- او د پښتو لیکوالو سوچ او دلیك انداز ئې بېخي بدل کړو او په وړومبي ځل ئې نظم د مادي ژوند ترجمان وګرځو- او هم د دغه اثراتو نه ډك نظم په انسان کښی د جمهوریت، ازادۍ، مساواتو او امن د جذباتو رالړزولو سوب جوړ شو- د ترقي پسندۍ چې کومې غوښتنې دي چې په شاعرۍ کښی دې د معروضي حقائقو ښودنه، د ظالم لاس نیوی، د مظلوم مرسته، د نادار او مفلس دادرسي، د اقتصادي خوشحالۍ لپاره هلې ځلې او حریت پسندي دې د زلفو رخسار د تذکرو او مبالغه ارایۍ ځای ونیسي- شاعري دې په رېښتونې توګه ژوند ته د وړپېښو مسئلو ترجمانه شي هم دغه مقصدونه د ترقي پسند تحریك د اثر لاندې پښتنو لیکوالو په جدید نظم کښی سر کړل او لاتر دې دمه دا سفر روان دی-

ګنړ شمیر شاعران داسې دي چې د هغوی په نظم کښې ترقي پسند فکر او مارکسي نظریات ځلیږي خو د مقالې د طوالت د ویرې د یو څو نوموړو شاعرانو د نظم څهٔ ټوټې د نمونې په توګه وړاندې کوو-

اجمل ختټک طبقاتي درجه بندي او سماجي ناهمواري بيخي نۀ مني او د يو ادم په اولاد کښې ورته فرق ناروا ښکاري- په دې حقله په "فېصله" نومې نظم کښې په جار وائي-

"ستا دې خان کاکا په کور کښې زر انبار وي
او زما بچی دې خاورې ځټې خوار وي
ستا ښېنکونه خو دې ورځ په ورځ پړسيږي
او زما وينه دې درنگ په درنگ وچيږي
خواري زۀ کوم، ځان زۀ وژنم سود ستا شي
تاوان زۀ وکړم او گټه تاله راشي
وازدې ويلې په پټو کښې مې زما شي
ترې نه جوړه ستا بنګلو کښې ستا رڼا شي"(15)

قلندر مومند په شاعرۍ کښې د مقصديت او حقيقت پسندۍ قائل دی- په خپل نظم "شاعره" کښې شاعر ته مخاطبه کوي- هغه د سرو شونډو او تورو سترګو د صفتونو نۀ منع کوي - او د هغه پام مقصديت او ژوند سره تړلې کشالو اړخ ته راګرځوي- قلندر مومند وائي-

"شاعره نن خو څو خبرې واوره
څو اسوېلي په زړۀ دننه لرم
تۀ چې د ګل څيرې ګرېوان ليدی شي
راشه! د اور ډکه لمنه لرم
منم خوبان ښۀ وي خو غوږ ونيسه
که زۀ هر څو څهره پمنه لرم
بس دی دا سرې شونډې دې وستايلې
اوس د زخمونو د ستايلو وخت دی
د تورو سترګو صفتونه وشو
اوس د سرو سترګو د کتلو وخت دی
زما د زخم نه پلو لرې کړه
د پرهرونو د سپړدلو وخت دی"(16)

ايوب صابر چې په هر لورې مايوسه شي هېڅ رڼا او اسره نۀويني نو بيا خپل خالق ته د ظالم جابر د راج ختمولو دپاره په فرياد ګډ شي او وائي:

راج د انسان دی، دا راج بدل کړه
ته ئې ښبتن ئې، سماج بدل کړه
خدائي دستا ده، رواج بدل کړه
دنیا د چا ده، واکمن ئې څوك دی
قدیمه خدایه!، عظیمه خدایه!
څوك چې باچا دی، هغه مجبور کړه
څوك چې جابر دی، هغه مقهور کړه
عظیمه خدایه!، قدیمه خدایه!(17)

ډاکټر محمد اعظم اعظم نظم د ترقي پسند فکر ترجمان دی د هغه په نظم کښې د انسانیت د پرېوتي طبقې د حالت ښۀ کولو، طبقاتي لري برې،، غربت او د ظلم او جبر قوتونو خلاف آواز واضحه لېدی شي- لکه د دوی نظم " پرون او نن" د دغه شان افکارو نمونه ده وائي چې:

پرون هم وینې ورولې د ظالم وریځو
نن هم د سترګو نه د اوښکو بارانونه ووري
د هر یو ذهن نه زخمي زخمي سوچونه ووري
پرون به هم وې د انسان نه د انسان فاصلې
نن هم زما او ستا ترمینځه دیوالونه ولاړ
د زړونو لارو کښې د سرو او سپینو غرونه ولاړ
پرون هم فرق د ګلچین او د مالیار نه کېدۀ
نن هم پالنه د چمن ده د چمن په بیعه
نن هم ساتنه د بدن ده د بدن په بیعه
نن هم د خیال په سرابونو امیدونه روان
پرون هم باد د تسلو په الوتو الوتۀ
پرون هم زول د آرمانونو په سینو الوتۀ"(18)

اشرف مفتون د "غریب ګله" نومې نظم کښې د طبقاتي درجه بندۍ ذکر کوي او په ډېر راختېکېدلي جذباتو سره د خپل رب نه په ګیلو دی-

ما ته دي مانۍ او محلونه ساز جنت کښې کړل
ډېرو ته دي ساز دلته دنیا کښې محلونه کړل
زۀ دي کړم په طمع د جنت حور و قصور ربه!

خلقو ته دی جوړ دلته قصرونه جنتونه کړل
زۀ دې سوړ سوکړک، تروۀ شملو پسې لیواله کړم
نورو ته بخشش دې شرابونه کبابونه کړل
زۀ په سر سرتور، په تن بربنډ په پښو پښې ابلې یم
ډېرو ته عطا دی بخملونه، کنخابونه کړل
زۀ دې په محنت په مشقت کښې زیړ زبېښلی کړم
نورو ته انبار دې بې محنته دولتونه کړل"(19)

سیف الرحمن سلیم په "فېصله" نومې نظم کښې د مزدور او دهقان د محنت او د هغه د جذبې ستائنه کوي او بیا د سرمایه دارو د غاصبانه روئیو ذکر کوي۔

شاړو بنجرو نه چمن سازوو
څمې اوربل مونږ د وطن سازوو
چرته غلې چرته ګلونه کرو
د مېوو بوټې شنه باغونه کرو
سینې د زمکې نه مونږ زر اوباسو
او په خپل وس ترې ټول جوهر اوباسو
بیا هم نهر یو او نهر اوسېږو
ځائې په ځائې ګرزو در په در اوسېږو"(20)

عبدالرحیم مجذوب د سرمایه دارو د ناکړدو او عدم مساواتو په لور په "پراسرپائین هرکلی" نومې نظم کښې داسې اشاره کوي۔

زردار مکان اول دولت باندې قبضه وکاندې
وروستو د ملك په سیاست باندې قبضه وکاندې
وطن لوټې قیصې دروغ د مساوات جوړوي
هلته دوبۍ په سوئزرلېنډ کښې محلات جوړوي
خپله شي پټ مونږه سختیو ته، خوارۍ ته پاتې
زۀ او تۀ بیا دې مجبورۍ او نوکرۍ ته پاتې
مونږ د جامې، مړۍ دپاره نوکرۍ نۀ مومو
د خېټې غم کوؤ د پړي مزدوري نۀ مومو"(21)

سلیم راز په "باغي یم" نظم کښې د سماجي لري بري ذکر کوي او د سماج دپاره د یو داسې راج غوښتنه کوي چې په کښې د انسان او انسانیت احترام او قدر وي هغه وائي:

چې قدغن د خولې په سا د زړۀ په آه وي
چې شکوه هم په کښې جرم وي ګناه وي
چې زړۀ، دهن، خولۀ، نظر، ضمیر غلام وي
زۀ له داسې روایاتو نه باغي یم
د انسان او سړي توب چې احترام وي
زۀ منونکی د هغې رواج د راج یم
لټونکی د هغې ښکلی سماج یم(22)

رحمت شاه سائل انقلابي دی خو هغه دا انقلاب د انسانیت د ښېګړې، د بشري حقونو د تحفظ، د یو ښۀ نظام دراتګ، امن او سکون راوستو دپاره غواړي- د ناوړه نظام خلاف چې سائل کوم انقلاب غواړي د هغې خد وحال داسې بیانوي-

یو داسې انقلاب چې د دې زوړ نظام قاتل شي
یو داسې بغاوت چې ترې په مرګ کښې ژوند حاصل شي
یو داسې انقلاب چې ئې سحر په وینو سور شي
یو داسې بغاوت چې د سا مراج راج ئې قاتل شي(23)

په کمیونزم میني فسټو کښې د ټولې نړۍ مزدورانو او خواري کښو ته د یو موټې کېدو غږ شوی دی ولې چې په کمیونزم کښې د ټولو نه اهمه طبقه مزدور او خواري کښ ګڼلی شي خو د بده مرغه تل له غټانو د دوی استحصال کوي او خپل حق نه ئې محرومه ساتي- رحمت شاه سائل هم د کمیونزم د سیورې لاندې دا طبقه مهمه بولي او د سماج د بدلون، ښۀ کېدو او خوشحالۍ د پاره د دوی یو موټی کېدل او انقلاب راوستل یقیني او ضروري ګڼي- "د مزدورانو نعره" نومې نظم کښې دا جذبات داسې بیانوي:

تاسو ته ملګرو د بې وسه وطن سترګې دي
تاسو به سبا ګټئ په تاسو د نن سترګې دي
ځئ چې ځو ملګرو ځئ چې ځو
ځئ چې ځو ملګرو ځئ چې ځو
ستاسو نه بغیر د ځۀ بدلون خبرې ګرانې دي

بې د زړۀ چاؤدن نه د ژوندون خبرې ګراني دي"(24)

اشرف غمګين د سامراجي نظام دفن کولو دپاره انقلاب او بغاوت لاژمي توکې ګڼي ځکه خو مزدورانو، د هقانانو او خواري کښو ته څۀ داسې اشارې کوي۔

ګورو وريځو کښې ښکاره شي لکه نمر انقلاب
په تورو شپو پسې راځي لکه سحر انقلاب
رادې شي زر چې سرو صبا سرې پرېږې شي وطن
زما ارام زما سکون زما ځيګر انقلاب
د دې معاش او سياسي بحران بل حل نۀ شته
په داسې وخت کښې خو څو چنده دی بهتر انقلاب
يه! مزدورانو، کسانانو، خواري کښو ورونړو
نن خو راغلی دی ولاړ راته په سر انقلاب(25)

لنډه دا چې ترقي پسند شاعران په خپلو نظمونو کښې د انسانيت د احترام او عزت خبره کوي د خوارې کښو او ځپلو طبقو ذکر کوي۔ دغه شان د جابر، غاصب د ظلم او مظلوم سره د مرستې او همدردۍ څرګندونه کوي۔ او د ټولو پام د انسان اقتصادي او معاشرتي پرمختګ په لور راګرځوي۔ او يوه داسې ټولنه په وجود کښې راوستل غواړي چرته چې انساني وقار او انساني عظمت قائم دائم وي او دا هر څۀ د هغوی د ترقي پسند فکرله کبله دي۔

# حوالې


(1) اياز، محمود، په پښتو نظم کښې شېرينې نغمې لټوم، مشموله درې مياشتنۍ جرس کراچۍ، نظم نمبر جنوري ۲۰۰۱ء، مارچ ۲۰۰۲ء مسلسل گڼه نمبر ۳۷ تا ۴۰، مخ: ۳۰۱

(2) يوسفزی، مشتاق مجروح، زرکانې، تاج کتب خانه پېښور، جون ۱۹۹۸ء، مخ ۱۴۴

(3) صدیقی، ابو الاعجاز حفیظ، کشاف تنقیدی اصطلاحات، مقتدرہ قومی زبان اسلام اباد، ستمبر ۱۹۸۵ء، ص ۱۹۹۔

(4) داؤد، داور خان، پښتو نظم کښې د حمزه برخه مشموله درې مياشتنۍ جرس کراچۍ، اپرېل- جون ۱۹۹۷، مخ: ۴۲.

(5) اردو انسائیکلو پیڈیا، فیروز سنز (پرائیویٹ لمیٹڈ لاہور) طبع چہارم ۲۰۰۵ء، ص۱۴۱۸

(6) صدیقی، ابو الاعجاز حفیظ، کشاف تنقیدی اصطلاحات، ص: ۱۵۰

(7) ہاشمی، طارق، جدید نظم کی تیسری جہت، دستاویز مطبوعات لاہور، جنوری ۲۰۰۳ء، ص۴۱

(8) دراني، مفلس، د پښتو جديده شاعري او مفتون، (مشموله درې مياشتنۍ جرس، نظم نمبر)، ص: ۴۰۹

(9) آفريدي، اسلم تاثير، پروفېسر، د نظم تعريف، (مشموله درې مياشتنۍ مجله) پښتو ادبي جرگه پېښور، جنوري- مارچ، ۲۰۱۰ء، مخ: ۷۳

(10) راج ولی شاہ، ڈاکٹر، عالمگیریت اور جدید ادبی رجحانات (مقالہ)، مشمولہ پشتو ادب کی جدید رجحانات، مرتبہ عبداللہ جان عابد، یونیورسٹی پبلشرز پیشور، دسمبر ۲۰۰۸ء، ص۴۱ - ۴۲

(11) گوہر، اسماعیل، پشتو نظم میں جدید رجحانات کا ورود، (مقالہ) مشمولہ پشتو ادب کے جدید رجحانات ص۷۲

(12) انور سدید، ڈاکٹر، اردو ادب کی تحریکیں، کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، ۱۹۸۳ء ص۵۳۷

(13) گوہر، اسماعیل، پشتو نظم میں جدید رجحانات، ص ۷۲، ۷۳

(14) کیفي، حنیف، ترقي پسند نظم، (مشموله ترقي پسند ادب) مرتبین ډاکټر قمر رئیس عاشور کاظمي، مکتبه عالیه لاهور ، ۱۹۹۴ء، مخ: ۴۸۰

(15) خټک ، اجمل، ګل پرهر، یونیورسټي بك ایجنسي پېښور، ۱۹۹۰ء، مخ:۸۷

(16) مومند ،قلندر، صباؤن، تاج کتب خانه قصهٔ خواني پېښور، ، ۲۰۰۰ ء،مخ:۴

(17) صابر ،ایوب، ځیګر خون، قامي مکتبه پېښور، ، ۱۹۸۳ء، مخ: ۱۸۸، ۱۸۹

(18) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون، مخونه: ۳۲۳، ۳۲۴

(19) مفتون، اشرف، سکونډاري، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، جنوري ۲۰۰۴ء، مخ: ۱۴۸

(20) سلیم، سیف الرحمن، د وړو وړو خدایانو دي بنده کړم، یونیورسټي پبلشرز پېښور، مارچ ۲۰۰۸ء، مخ: ۲۰۲

(21) مجذوب، عبد الرحیم، د مجذوب کلیات، دویمه برخه، اداره نۀ لري، ۲۰۰۸ء، مخ:۴۴

(22) راز، سلیم، زۀ لمحه لمحه قتلیږم، یونیورسټي پبلشرز پېښور، جنوري ۲۰۰۹ء، مخ: ۱۰۹

(23) سائل، رحمت شاه، د ویر په چم کښې وار د نغمو دې، دانش کتاب خانه پېښور، جنوري ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۲۴

(24) سائل،رحمت شاه، د ښائستونو د سپرلو بادونه، دانش خپرندوي ټولنې تخنیکي ځانګه پېښور، جنوري ۲۰۰۹ء، مخ: ۱۴۸

(25) غمګین،اشرف، نمر د پلوشو سره، اداره نۀ لري، فروري ۱۹۸۹ء، مخ : ۱۶